داسې نشته مګر ځای یې په دوزخ او یا جنت کې لیکل شوی دی" نو یو سړی وویل: آیا توکل نه کوو ای د الله رسوله؟ وېې فرمایل : «نه، عمل وکړئ، هر یو آسانه ګرځولی شوی»، بیا یې - دا آیت - ولوست :

﴿فَأَمَّا مَنۡ أَعۡطَىٰ وَٱتَّقَىٰ٥﴾[اللیل: 5]

**(نو هر چې هغه څوک دی چې ورکړه کوي او وېرېږي)**. او د مسلم په لفظ کې راغلي: «هر یو ته آسانه ګرځولی شوی هغه عمل چې ورته پیدا شوی دی» نو نبي - صلی الله علیه وسلم - په کار کولو باندې امر وکړ، او په تقدیر باندې له تکیه کولو یې منع وکړه. څلورم: الله - تعالی - بنده ته امر او نهې کړې، او مکلف کړی یې ندی مګر په هغه څه چې کولی یې شي، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ مَا ٱسۡتَطَعۡتُمۡ وَٱسۡمَعُواْ وَأَطِيعُواْ ...﴾[التغابن: 16]

**(نو تاسو له الله نه ووېرېږئ څومره چې تاسو کولی شئ او واورئ او اطاعت وک**ړئ) او ویلي یې دي :

﴿لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَاۚ ...﴾[البقرة: 286]

**(او الله هېڅ یو نفس نه مکلف کوي مګر د هغهٔ له وَس سره سم)**. که بنده په عمل کولو مجبور وی، نو په هغه څه به مکلف ګرځول شوی و چې ځان به یې ترې نه شو خلاصولای، او دا خبره غلطه ده، لدې امله کله چې ترې کومه ګناه په ناپوهۍ، هېره، او یا اکراه سره تر سره شي، نو ګناه پرې نشته، ځکه چې هغه معذور دی.

پنځم: الهي تقدیر پټ راز دی، تر هغه پرې څوک نه پوهیږي تر څو چې مقدور شی واقع شوی نه وي، او د بنده اراده پر هغه څه چې کول یې غواړي مخکې وي؛ نو پس شوه اراده د ده دغه کار لره پداسې حال کې چې بنا نه ده د ده له طرفه په علم . د الله په تقدیر، دغه وخت په تقدیر دلیل نیول سم کار نه دی،ځکه په ناپوهۍ سره خبره کول دا یې دلیله ګڼل کیږي.

شپږم: موږ ګورو چې انسان د دنیا په چارو کې هغه څه ته لیواله دی چې ورته مناسب وي، تر دې چې تر لاسه یې کړي، او هغه څه ته ترې نه اوړي چې مناسب ورته نه وي، بیا ورڅخه له اوړېدو لپاره په تقدیر استدلال کوي؟ نو د دین په چارو کې بیا ولې اوړي د هغه څه نه چې د ده په

